الله تعالى د نېغې لارې مثال - داسې - بيانوي

نَّوَّاس بن سمعان الأنصاري رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: "الله تعالى د نېغې لارې مثال - داسې - بيانوي چې د لارې په دواړو خواو کې دوه دېوالونه دي، او په هغې کې خلاصې دروازې دي، او پر دروازو پردې راځوړندې دي، او د لارې په دروازه يو بلونکی وايي: اې خلکو! ټول په ګډه لارې ته ننوځئ او غاړو او څنډو ته مه ورکږيږئ، او د لارې له پاسه بل بلونکی دی، نو هر کله چې لاروی وغواړي لدې دروا‌ځو څخه څه پرانيزي وايي: افسوس دی پر تا، مه يې خلاصوه، ځکه که تا خلاصه کړه نو خامخا به ورننوځي، او دا نېغه لار اسلام دی، او دوه دېوالونه د الله تعالى حدود دي، او خلاصې دروازې، د الله تعالى محارم دي، او هغه د لارې پر سر بلونکی د الله تعالى کتاب دی، او د لارې د پاسه بلونکی له الله تعالى څخه هغه ويرونکی مبلغ دی چې د هر مسلمان په زړه کې دی».

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړی چې: الله تعالى د اسلام لپاره په نېغه لار يو مثال وړاندې کړ چې دغه لار سيده ده او هيڅ کوروالی پکې نشته، او د لارې په دواړو غاړو دوه دېوالونه دي چې تر څنډو يې راچاپېر دي، او دا دواړه د الله تعالى حدود دي، پدې دواړو دېوالونو کې خلاصې دروازې دي چې هغه د الله تعالى محارم دي، او په هغو دروازو پردې دي چې تېريدونکي ته نه ښکاري د لارې دننه څوک دي، او د لارې په سر يو بلونکی دی چې خلکو ته لارښوونه کوي او ورته وايي: په لاره - نېغ- ځئ، پرته لدې چې غاړو او څنډو ته يې ورکاږه شئ، او دا بلونکی د الله تعالى کتاب دی، او هلته د لارې پر سر يو بل بلونکی دی؛ او دا بلونکی چې کله په لارې تلونکی وغواړي د دروازو پردې يو څه خلاصې کړي نو ويې رټي او ورته وايي: افسوس دی پر تا مه يې خلاصوه! که چېرته يې ته خلاصه کړې نو خامخا به ورننوځي او هېڅکله به ونکړای شي چې ځان له ننوتلو ايسار کړي، او دا بلونکی د هر مسلمان په زړه کې د الله تعالى مبلغ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65049

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee